# قاضي عطاءالله خان

# تاریخ جوړونکے- تاریخ لیکونکے

سرمحقق عبدالله بختاني خدمتګار


قاضي عطاءالله خان

د بشري تاریخ د پېړیو په پوړیو کښې ځینې کسان داسې تېر شوي او اوس لا هم شته چې هغوي تاریخ جوړوي. د نړۍ د یو هېواد یا یوې سیمې د ټولنې د تاریخ په اوښتونونو، بدلونونو او پرمختګونو کښې د هغوي فکر، وینا او عمل مثبت رول لري. دا تاریخ جوړونکي شخصیتونه دي. ځینې کسان بیا د نړۍ، یو هېواد یا یوې سیمې د ټولنې بدلون او پرمختیا، د هغې د تاریخ جوړوونکو هلې ځلې او د عادي خلقو حالات لیکي او خپلو پردو، اوسنو او راتلونکو نسلونو ته ئې سپاري. دا تاریخ لیکونکي پوهان یا مؤرخین دي. ځینې ښاغلي بیا د ټولنې د شرائطو په بدلون او ترقۍ کښې هم فعاله څرګنده اغېزناکه برخه اخلي او هم ئې تاریخ لیکي. دا نادر کسان تاریخ جوړونکي تاریخ لیکونکي دي.

جناب قاضي عطاءالله خان په لر او بر افغان کښې، یو دغسې دانشمند سیاست کار، ټولنیز او ملي خبړندوئے مورخ ؤ چې هم تاریخ جوړونکے ؤ او هم تاریخ لیکونکے. دغه حقوق پوه (وکیل) دانشور، د سیاسي او ټولنیزو هلو ځلو په ډګر کښې خدائي خدمتګار او د قلمي خدماتو په نړۍ کښې تکړه مؤرخ ؤ.

هغه د قاضي نصرالله خان دوهم زوئے ؤ. د پېښور په تاکال کښې اوسېدۀ. «قاضي» ئې کورنے لقب ؤ، دیني مروج علوم ئې له خپل پلاره لوستي وو، په ښوونځیو کښې ئې هم زدکړه کړې وه او

غالباً په 1918 کال کښې ئې د عليګړهـ له پوهنتون ځخه د وکالت (حقوقو) برے ليک واخيست.

بيا د مردان په سيمه کښې ئې د وکالت کار کاوۀ. د سيمې او نړۍ د سياست بهير ته هم متوجه ؤ. په 1919 کال قاضي صاحب په هغه لويه جلسه کښې برخه واخستله چې د هشنغر اتمانزو کښې د فخر افغان خان عبدالغفار خان په بلنه د برطانوي هند د استعماري حکومت د (رولټ بل) په خلاف جوړه شوې وه او د هم هغې ورځې او هم هغې جلسې ځخه، د قاضي صاحب په ذهن کښې ملي سياسي فکر په خوزېدو شو.([1])

د ذکر شوې جلسې په باره کښې فخر افغان خان عبدالغفا رخان ليکلي دي:

"د اتمانزو دې جلسې په پښتنو اور ولګولو او ښۀ جوش او خروش ئې پيدا کړو. بله جلسه په تاکال کښې د ارباب رضا خان له طرفه مقرره شوه. ټوله علاقه ئې خبره کړې وه. مونږ ته ئې هم بلنه راکړې وه. د جلسې په ورځ سحر وختي مونږ ور روان شو، د سردرياب د پلۀ نه پورې وتلو. ((عاشق)) د پېښور د ښار مېوه فروش په ټانګه کښې سور مخې له راغے اشاره ئې وکړه. ټانګې مو ودرولې راکوز شو. زۀ، عباس خان، بائي جان او احمد استاذ ئې بيل کړو او راته ئې ووې چې د افغانستان او پېرنګيانو جنګ شروع شو. بېګا په ټول ملک کښې د مارشل لا اعلان شوے دے. د تاکال جلسه بنده شوه او د افغانستان له طرفه کاغذونه ما راوړي دي، دا واخلئ او په ملک کښې ئې ووېشئ...." ([2])

د پېرنګيانو د ((رولټ بل)) په مقابل کښې خلق پاربدلي وو. حکومت د مارشل لا اعلان کړے ؤ. د افغانستان او پېرنګيانو ترمنځ د جګړې د پېلېدو په درشل کښې، د لرې برې پښتونخوا د روښان فکرانو، وطنپالو ا و په عدالت او آزادۍ مئينو خلقو تر منځ عملاً روابط موجود وو. د پېښور د ((عاشق)) مېوه خرڅوونکي په شان د تاريخي هېواد عاشقانو به د کابل پېغامونه او کاغذونه د پېښور مخکښو عناصرو ته رسول....

د دغسې تاوجنې تودې هوا د رڼا او تودوخې په برکت د ځوان تعليميافته حقوق پوه قاضي د زړۀ او ذهن په کروندہ کښې د ملي آزادۍ د سياسيت زړے زرغونېدۀ او سر ئې وچتوو.

په هم دې کال د افغانستان د خپلواکۍ اعلان وشو. په بل کال 1920 کښې د هندوستان د خلافت کمېټۍ له خوا د هجرت اعلان وشو. له برطانوي هند ځخه ډېر ځوانان، افغانستان ته په هجرت راغلل. د خان عبدالغفار خان خوښه نۀ وه چې دے دې هم راشي، مګر د نورو ملګرو له خوا مجبور شو. د شبقدر او آزادو قبائلو په لار جلال اباد او بيا کابل ته راغے. څۀ موده اوسېدو، د اعلي حضرت امان الله خان غازي، محمود طرزي، سردار محمد نادر خان، سردار محمد هاشم خان، عبدالهادي داوي او ځينو نورو مشرانو سره د ملاقاتونو نه وروستو، د جلال آباد او بيا د آزادو قبائلو په لار بيرته پېښور ته لاړو او په نوي طرز د يوې ټولنيزې اصلاحي انقلابي ډلې د جوړولو تکل ئې وکړ.([3]) لکه چې په خپله په دې باره کښې ليکي:

د افغانستان او آزادو قبائلو حالت چې مې وليدو او پنځلس کاله مې په هندوستان، قبائلو او افغانستان کښې غرزې پرزې وکړې، نو په دې نتيجه ورسېدم چې انقلاب د منډې کار او دومره آسان څيز نۀ دے. انقلاب د سرې سينې کار دے. انقلاب علم او پوهه غواړي. انقلاب عالمان او پوهان غواړي چې د پوهې سره قام وروزي او انقلاب ته ئې آماده کړي. تۀ ګوره چې زمونږ جذباتي ملګري په څومره جوش راوتلي وو. ټول لاړل خوارۀ شول. نو کښېناستم د ځان سره مې ښۀ فکر وکړو زۀ په دې نتيجه ورسېدم چې زمونږ د قام نۀ تجارت خوا ته توجه شته، نۀ د صنعت خوا ته، نۀ د زراعت خوا ته او نۀ د تعليم خوا ته. د بلې خوا نه په رسمونو رواجونو کښې تر غوږونو پورې ډوب دي. په خانه جنګيو اخته دي، داسې قام انقلاب نۀ شي کولے او دا قام د دې بلاګانو نه خلاصول پکار دے چې سياسي شعور په کښې پېدا شي او دا کار پُرامنه فضا غواړي.

تر دغه وخته پورې زۀ په دې عقيده وم چې دا ټول کارونه انقلاب غواړي. تشدد راته د انقلاب نژدې او کاميابه لار ښکارېده خو د تجربې نه وروستو راته معلومه شوه چې د جنګ په وخت کښې اسونه نۀ تيارېږي نو ځکه مې اراده وکړه چې خپل کلي ته واپس کېږم او د عدم تشدد د اصولو په بنا به کار کوم. اول به د انقلابي اشخاصو د تعليم او تربيت دپاره قومي مدرسې جوړوم نو ځکه اتمانزو ته راغلم. زۀ چې له هجرته بيرته راغلم د هغو مدرسو د بيرته جاري کولو کوشش مې کولو چې پېرنګيانو د جنګ په زمانه کښې بندې کړې وې.(4)

ښائي چې خان عبدالغفار خان د دې کال **1920** په ترڅ کښې د دې لوئے بنيادي کار د عملي کولو په بندوبست او د لومړنيو ملګرو د پېدا کولو په هڅه کښې ؤ او ښائي چې په دې لړ کښې قاضي صاحب ئې هم تر نظر لاندې ؤ او له ښۀ مرغه داسې قصه پېښه شوه چې بابا وائي:

"د **1920** آخرنۍ مياشتې وې چې په عليګړهـ کښې په مسلم يونيورسټۍ کښې څۀ تقريب ؤ. زۀ او زما دوست قاضي عطاءالله خان ئې هم بللي وو، مونږ دواړه عليګړهـ ته لاړو."(5)

د دې سفر په فارغو وختونو کښې د سياسي، ملي او ټولنيزو خبرو اترو څومره ډېره ښه طلائي موقع؟

ډېر زر خان عبدالغفار خان او ملګري ئې د آزادو مدرسو او يو اصلاحي ټولنيز انجمن د جوړولو کار پېلوي، په خپله ليکي:

"مونږ په **1921** کال کښې د دوستانو په مرسته په اتمانزو کښې د آزاد سکول بنياد کېښودۀ چې په دې سکول کښې قاضي عطاءالله، ميا احمد شاه، حاجی عبدالغفار خان، محمد عباس خان، عبدالاکبر اکبر، تاج محمد خان، عبدالله شاه او خادم محمد اکبر زما ملګري وو.(6)

تاسې لطفاً توجه وکړئ چې د خان عبدالغفار خان د سياسي کار د دې فرهنګي بنياد جوړوونکو ملګرو په فهرست کښې قاضي لومړنے شخص دے. دې سره سم بابا ليکي:

"د مدرسې تر څنګه مونږ د پښتنو د غلطو رسمونو رواجونو د اصلاح کولو، د تشدد نه د منع کولو او پکښې د قامولۍ د مينې او محبت د پېدا کولو په غرض د اصلاح الافاغنه په نامه يو انجمن جوړ کړو"[7] د دې انجمن د موسساتو په فهرست کښې هم د (قاضي عطاءالله خان د مردان) نوم ثبت دے.[8]

د اولسي مدرسې او د انجمن اصلاح افاغنه د جوړولو له لومړيو نېټو بيا د قاضي تر وفاته پورې هغه د دې ملي تحريك يو تکړه او فعال غړے پاتې شوے دے.

په پېښور کښې د خلافت د تحريک د پښتونخوا د څانګې د کمېټۍ د مشرتوب په سر د دوو ګروپونو ترمنځ اختلاف ؤ، آخر جوړه په دې راغله چې خان عبدالغفار خان دې د دې کمېټۍ مشر وي. د دې تحريک د فعاليتونو په سر خان عبدالغفار خان د **1921** کال د دسمبر په **17** مه د پېرنګي حکومت له خوا ونيول شو او درې کاله ئې په مختلفو زندانونو کښې شپې سبا کولې[9] او قاضي صاحب په دې موقع کښې د برطانوي حکومت رسمي ملازمت پرېښود.[10]

د بابا د آزادۍ نه څۀ موده وروستو په **1928** کال د هغوي له خوا ((پښتون)) مجله تاسيس شوه په دې مجله کښې به د پښتنو د تاريخ په باره کښې د قاضي صاحب مقالې خورېدلې.

په **1929** کال د انجمن اصلاح افاغنه څنې د ((خدائي خدمتګار)) سياسي حزب جوړ شو. په دغه مهال قاضي صاحب د خدائي خدمتګارو يو مشر، حامي او د خان عبدالغفار خان ښے لاس ؤ او حزب سره ئې ډېرې مادي او معنوي مرستې کولې.

د خدائي خدمتګارو حزب د هند د نيمې وچې د فعال او قوي حزب، د هند ملي کانګرس سره په اتحاد کښې د هند د آزادۍ دپاره په ډېره سنجيدګۍ پرله پسې مبارزه کوله. آخر پېرنګي مجبور شو چې د خلقو او احزابو د قناعت دپاره يو څۀ ((اصلاحات)) ومني. خان عبدالغفار خان په دې ارتباط ليکلي دي:

"په دوه ويشتم دسمبر په پېښور کښې يو لوئے دربار ؤ چې هغه کښې هم د ريفارم د خبرو تجويز ؤ. ډاکټر خانصاحب له او ماله لاټ صاحب دعوت نامې رالېږلې وې. ما او قاضي عطاءالله او ډاکټر په دې خبرې وکړې چې تلل پکار دي کۀ نۀ؟ زۀ خو ناجوړه وم، ليکن په دې فيصله وشوه چې په داسې حالت کښې چې حکومت لګيا دے، په خدائي خدمتګارو ظلمونه کوي، نو تلل پکار نۀ دي او مونږ هغې له لاړ نۀ شو.[11]

د **1931** د دسمبر په **24** مه د پېښور د ((لوئے دربار)) نه دوه ورځې وروستو د شپې له خوا خان عبدالغفار خان، د هغۀ ورور ډاکټر خانصاحب، قاضي عطاءالله خان او سعدالله خان د ډاکټر خانصاحب زوئے د پېرنګي د حکومت له خوا ونيول شول. د برطانوي هند ځان له ځان له زندانونو ته واستول شول او هلته په ځان له ځان له کوټو کښې بنديان کړے شول. د ستونزو او کړاوونو نه ډک ژوند ؤ. خان عبدالغفار خان وائي چې ماته به د هرې مياشتې په سر کښې ډپټي کمشنر راغے او زۀ به ئې

ولیدم. زما دا تنهائي به ئې محسوسوله او زما نه به ئې تپوس کولو چې تا ته څۀ تکلیف خو نشته؟ ما به ورته وئیل چې جېلخانه خو د تکلیفونو ځائے دے. زما دا عادت دے چې په جېلخانه کښې نۀ څۀ غواړم او نۀ شکایت کوم او ټول تکلیف په ځان تېروم. شپږ میاشتې تېرې شوې او دۀ خپله ولیدل چې صحت مې خراب شو او نور هم خرابېږي نو بغېر زما د وېنا نه ئې د صوبه سرحد حکومت ته ولیکل چې دۀ له یو ملګرے پکار دے او په ((ګیا جېل)) کښې د دۀ ملګري دي. هغۀ دې، دې جېل خانې ته رابدل شي. هغه قاضي عطاءالله خان ؤ، هغه غریب هلته یوائې ؤ او زما نه هم زیات په تکلیف کښې ؤ. زۀ به څۀ ناڅۀ اودۀ کېدم او خوب به راغے او هغۀ غریب ته خوب نۀ ورتۀ او نۀ اودۀ کېدے شو. ځکه چې د تنهایۍ په وجه ئې یو کال هډو خوب نۀ ؤ کړے. د ګیا جېل خانه د هندوستان په ټولو جېلونو کښې ګرمه ده. بله دا چې زۀ او قاضي صاحب په یوه صوبه بهار کښې ؤ او ډاکټر صاحب او سعدالله خان په بله صوبه یعنې یوپي کښې ؤ. ولې سر ریلف ګریفتهـ زما او د قاضي صاحب ډېر مخالف ؤ نو مونږ دواړه ئې نۀ یو ځائے کولو، د هغۀ په ځائے ئې ماله ډاکټر صاحب راولېږلو چې ډاکټر صاحب راغے مونږ یو بل ته ورترغاړه وتو او کال پس ئې قاضي صاحب سعد الله له ولېږۀ([12]) تر دربو کالو وروستو په **1934** کښې پرته له خان عبدالغفار خان خان بابا څخه، نور درې واړه مشران آزاد شول.

خان عبدالغفار خان خو له زندان څخه ایستل شوے ؤ، مګر د پنجاب او پښتونخوا صوبو ته له ورتګ نه منع شوے ؤ نو د هند دوره ئې شروع کړه او بیا بیا د سیاسي فعالیتونو په سر نیول کېدۀ او بندي کېدۀ. وار په وار او وخت په وخت، د واردا، کلکتې، بمبۍ، سابرمتي، برېلي او الموړه په زندانونو کښې ئې د بند شپې ورځې تېرولې، په هم دغو وختونو کښې ئې هم د پښتونخوا، خدائي خدمتګار او په دوي کښې د قاضي صاحب سره ئې روابط موجود وو. دغه حالات، د بابا د ژوند کتاب "زما ژوند او جدوجهد" کښې مفصل راغلي دي او یو څۀ لمحې ئې د هغۀ په لیکونو کښې څرګندې شوې دي. د بابا د لیکونو په چاپي مجموعه کښې څلور لیکونه د قاضي صاحب په نامۀ دي، د دغو لیکونو ځینې ټکي:

((...په اصل کښې دا خط خو ما د یو خاص کار دپاره((ولي) ته لیکو، لېکن نن د لیکلو په وخت کښې زما اراده بدله شوه او زړۀ په دې مجبوره کړم چې د هغۀ په ځائے تاته ولیکم. ماته ستا بچې ډېر یادېږي او د مشرې جینۍ به دې څۀ ذکر کوم هغه خو زما زړۀ ته ډېره نژدې ده. زما د طرف نه هغوي ته مینه محبت او د کور خلقو ته سلام وایه.))([13])

((غني او ولي خوشې کوه مۀ، کله نا کله ورسره وینه.))([14])

((خوږه قاضي عطاءالله جانه! خوشحاله اوسې، د سعدالله جان نه د ملاقات په وخت راته معلومه شوه چې تا ته د خط نۀ لیکلو زما نه شکایت دے، شاید چې ستا دا خیال وي چې ګنې زما نه به تۀ هېر شوے ئې.

خوږه وروره! زۀ تا هېرولے نۀ شم، ستا کوم محبت، قدر او عزت چې زما په زړۀ کښې دے هغه خدائے ته معلوم دے. لېکن زۀ خو يو قېدي يم، زما دا اختيار خو نشته چې څۀ وخت غواړم يا چا ته غواړم خط ولیکم. زۀ د جېلخانې خپل خطونه همېشه ليکم.))(15)

((خوږه قاضي جانه! خوشحاله اوسې. السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته. ستا خط د پارسل سره رارسېدلے ؤ. لېکن هغه وخت ماله ځکه را نۀ کړے شو چې زما په حق کښې لا څۀ ورځې پاتې وې. پرون ماښام ئې ستا خط ماله راکړو په دې وجه په اول خط کښې ما ستا د خط جواب در نۀ کړے شو...))(16)

خان عبدالغفار خان بابا، د قېدونو او نظربنديو د تېرولو او يو ډول جلا وطنۍ نه وروستو خپل کور او کلي ته راستون شو. په دې موده کښې خدائي خدمتګارو، د عدم تشدد په اساس پردي حکومت سره پوره مقابله کړې وه او د سر و مال زيانونه او زندانونه ئې ګاللي وو، بابا ليکي:

((....زۀ اووۀ کاله پس خپلې صوبې ته راغلم، زۀ په 1931 کال کښې ګرفتار شوے وم او په 1937 کښې راغلم. زمونږ په خلقو ډېر زور زياتے او ظلم شوے ؤ، لېکن د هغوي جذبه مړه شوې نۀ وه....))

((....زما په غېرحاضرۍ کښې حکومت چې څومره ظلمونه کولے شول هغه ئې د صوبې په خلقو او په تېره بيا په خدائي خدمتګارو کړي وو. د خدائي خدمتګارۍ د بربادۍ دپاره ئې ټولې طريقې استعمال کړې وې خو کامياب شوے نۀ ؤ، بلکې خدائي خدمتګارۍ زياته ترقي کړې وه او خلقو کښې پوهه او سياسي شعور پېدا شوے ؤ....))

په دغسې سياسي فضا کښې د صوبه سرحد (پښتونخوا) په اسمبلۍ کښې د صوبې په صدراعظم صاحبزاده عبدالقيوم د نۀ باور رايه ورکړې شوه او دې سره د صوبې ګورنر سرجارج کننګم د خدائي خدمتګارو ليډر ډاکټر خانصاحب ته د وزارت د جوړولو بلنه ورکړه بابا ليکي:

((د وزارت جوړېدلو صلاح مشورې دپاره مولانا ابوالکلام آزاد او بابو راجندرا پرشاد ايبټ آباد ته راغلل. د خدائي خدمتګارو د پارټۍ ا سمبلۍ په ممبرانو کښې چې څوک د وزارت خواهشمند ؤ، هغوي د خدائي خدمتګارانو په ذريعه د خپلو خواهشاتو د پوره کولو دپاره کار شروع کړو. د دې ټولو سرغنه ثمين جان وکيل ؤ. د دۀ ډېر شوق ؤ چې وزير شي، د قاضي عطاءالله په مقابله کښې ډېر خلق د دۀ په طرف وو او د دې هم دغه وجه وه چې قاضي صاحب د خپل وزارت دپاره کوشش نۀ کولو او هېچا ته ئې وئيلي نۀ وو، تر دې پورې چې ماته ئې هم د دې خبرې کنايتاً هم ذکر نۀ ؤ کړے.))(17)

د خدائي خدمتګارو د مشورو نه وروستو يوه ځلور کسيزه کابينه جوړه شوه. په هغې کښې ډاکټر خانصاحب صدراعظم او محمد عباس خان، بنجورام او قاضي عطاءالله خان وزيران شول. قاضي صاحب پکښې د پوهنې (تعليم) وزير ؤ.

د يادونې او ستائنې وړ يو خدمت چې په دې موده کښې د معارف په برخه کښې وشو دا دے چې

د صوبې په سرکاري ښوونځيو کښې ابتدائي زدکړه د صوبې د ماشومانو په مورنۍ ژبه (پښتو) واوښتله.

وروستو بيا په الېکشن (عمومي انتخاباتو) کښې قاضي صاحب د مردان له سيمې څخه انتخاب شو، د انتخاب په نتيجه کښې د صوبې وزارت د خدائي خدمتګارو له خوا جوړ شو. بيا ډاکټر خانصاحب صدراعظم او قاضي صاحب د ماليې وزير شو.

يو کال وروستو د هند نيمه وچه په دوو هېوادونو، هندوستان او پاکستان ووېشل شوه. د پاکستان د حکومت له خوا انتخابي اسمبلۍ او کابينې ړنګې شوې، په وېش کښې د پښتونخوا د صوبې د خلقو د سرنوشت د ټاکلو حق ته نۀ وو کتل شوي، يو مصنوعي ريفرنډم وشو، خدائي خدمتګارو پکښې برخه وانۀ خسته.

فخر افغان خان عبدالغفار خان بابا او په زرګونو خدائي خدمتګاران زندانونو ته واستول شول، د قاضي صاحب هم دغه سرنوشت ؤ.

د دغو زندانونو يوه خاطره:

کله چې خان عبدالغفار خان بابا په حېدرآباد کښې زنداني ؤ، نو د خپلو ليکونو په لړۍ کښې ئې خپل مشر زوئے خان عبدالغني خان ته په يو ليک کښې ليکلي دي:

((خوږه غني جانه!

عمر دې ډېر پام دې په ښۀ شه.

پس د ډېرې ډېرې مينې او محبت نه تاسو ته به معلومه وي چې زۀ د حېدرآباد په جېلخانه کښې يم او په هغه وارډ کښې يم چې تۀ او قاضي صاحب پکښې وئ، خو تاسو دوه وئ او زۀ يواځې يم او بيا چې ته لاړې نو د قاضي صاحب د ملګرتيا د پاره ماسټر صاحب راغے څۀ وخت چې زۀ دلته راغلم او ماته معلومه شوه چې دا هغه ځائے دے چې تاسو درې واړه پکښې قېد وئ نو عجيبه اثر راباندې وشو او هر وخت به تاسو درې واړه راته مخکښې مخکښې کېدې او بيا په تېره قاضي صاحب او ماسټر صاحب خو هېڅ وخت زما د زړۀ نه نۀ وځي...))[18]

په فخر افغان دغه ګران ملګرے، د ملت خواخُوږے قاضي عطاءالله خان تر ځلور کاله بند وروستو د پاکستان حکومت په داسې وخت کښې له زندانه راوويست چې د دۀ له ژونده څۀ پاتې نۀ وو او دوه درې ورځې وروستو د **1952** کال د فرورۍ په **17** د **1330** هـ ش د سلواغې په **29** مه د لاهور په ميو روغتون کښې په حق ورسېدو. انا لله و انا اليه راجعون.[19]

قاضي صاحب يو تاريخ جوړونکے شخصيت ؤ ځکه چې د انجمن اصلاح افاغنه او بيا د خدائي خدمتګارو د حزب، د عدم تشدد په اصولو د هند د نورو آزادي غوښتونکو تر څنګ د پرله پسې مبارزو په نتيجه کښې د هند د نيمې وچې خاوره آزاده شوه. اوس په دې خاوره د دريو هېوادونو هند، پاکستان او بنګله دېش بېرغونه رپېږي.

- دې حزب او خلقو د افغانستان د استقلال سره هم مرسته کړې ده.

- د پښتونخوا د خاورې د سياسي خپلواکۍ د غوښتنې په سر دوي د پاکستان د حکومت په مقابل کښې ودرېدلي او قربانۍ ئې ورکړې دي.
- په پښتونخوا کښې د پښتنو د ملي هويت تثبيت او معرفي د دې حزب د فعاليتونو په نتيجه کښې شوې ده او د هغۀ ځائے د خلقو د ملي شعور په روزنه کښې دې حزب مثبت رول لوبولے دے.

قاضي صاحب تر فخر افغان بابا وروستو د دې حزب د لومړي صف د مخکښانو په لړ کښې يو ممتاز، فعال دانشمند شخصيت ؤ چې د حزب د فعاليتونو د پرمختګ او انکشاف دپاره ئې بې ساري مادي او معنوي مرستې کړې، قرباني ئې ورکړې او د ژوند تر پايه ئې زندانونه ګاللي دي.

دې سره دا تاريخ جوړونکے شخصيت د يو دانشور ليکوال په څېره کښې تاريخ ليکونکے څېرندوئے هم ؤ چې د افغاني تاريخ په برخه کښې ئې هم په ((پښتون)) مجله کښې مقالې خورې کړې دي او هم ئې په څلورو ټوکونو کښې ((د پښتنو تاريخ)) په نامۀ کتاب تاليف کړے دے.

د دې کتاب د ليکلو او چاپولو د بهير د ستونزو په برخه کښې به په خپله د هم دۀ نه واورو:

((هسې خو د ډېرې زمانې نه زما دا شوق ؤ چې زۀ د خپل پښتون قام تاريخي حالات راجمع کړم او د يو کتاب په شکل کښې ئې قام ته پېش کړم خو په صوبه سرحد کښې د قومي تحريک جاري کېدو او په دې تحريک کښې زما شرکت زما دا شوق نور هم تېز کړو ځکه چې د يو قوم د ذلت او د تباهۍ نه د بچ کولو دپاره د هغۀ قام تاريخ يو زبردست سامان دے...))

((... زۀ د ناوزګارتيا په وجه تر ډېرې مودې په دې مقصد کښې کامياب نۀ شوم تر دې چې د کال 1931 په دسمبر کښې انګرېزي حکومت زمونږ سياسي جدوجهد برداشت نۀ کړے شو، نو عام خدائي خدمتګار خو ئې د سرحد په مختلفو جېلونو ورننه ايستل او مونږ څلور کسان يعنې فخر افغان عبدالغفار خان، ډاکټر خانصاحب، سعدالله خان (د ډاکټر صاحب مشر زوئے) او زۀ ئې د خپلې صوبې نه ډېر لرې د هندوستان په بېلو بېلو جېلونو کښې بنديوان کړو. څو مياشتې خو مونږ بالکل ځان ځان له اوسېدو خو بيا زۀ او سعدالله خان د بنارس په سنټر جېل کښې يو ځائے شو. دغه وخت ماته يو اوږد فرصت حاصل شو او ما د خپلې زړې ارزو د تکميل دپاره بسم الله ووې، دا کتاب ليکل مې شروع کړل خو دا معلومه خبره ده چې د يو تاريخي کتاب ليکلو دپاره د تاريخي کتابونو مطالعه ډېره ضروري وي او د يو قېدي په حېثيت د کتابونو دپاره زۀ د خپل جېل د افسرانو د مرستې محتاج وم.))

((.... کوم کتابونه چې هغوي مهيا کولے شو، هغوي ماته راورسول او ما خپل کار شروع کړو، په دې موقع زۀ د خپل عزيز رفيق سعدالله ډېر زيات ممنون يم چې زما ئې ډېر زيات مدد کړے دے، بلکې اکثر مضامين به ما وې او هغۀ به ليکل يوائې ليکل نۀ، بلکې د کتابونو په مطالعه کښې ئې هم ماسره ډېر لاس کړے دے.

څۀ وخت چې مونږ د جېل نه راغلو، نو زۀ بيا ډېر سخت ناوزګار شوم او د کتاب مسوده هم دغسې پرته وه آخر ما فېصله وکړه چې ځان له کتاب چاپ کېدل خو ډېر وخت غواړي، نو ښۀ به دا وي چې دا کتاب زمونږ په قومي اخبار (پښتون) کښې په قسطونو کښې چاپ شي.))

((...ماته ډېرو دوستانو او د تاريخ شوقيانو، چا چې په (پښتون) کښې څۀ حصه لوستې وه، خواهش ظاهر کړو چې کۀ دا کتاب ځان له چاپ شي.))

((آخر په **1942** کښې مونږ بيا ونيوے شو او د پېښور په سنټرل جېل کښې بنديوان شو، دغه وخت ما بيا غنيمت وګڼلو اراده مې وکړه چې زړه مسوده راوغواړم ځکه چې هغه ډېره صفا نۀ وه...))

(( مسوده مې صفا کړه خو د جېل نه د راوتو سره سم ماته بيا د وزارت کار حواله شو چې په دې کښې سرګرولو ته هم سړے وزګارېدے نۀ شي نو ډېره موده مسوده هم دغسې پرته وه.))

((. ما د (پښتون) مدير عبدالخالق خليق صاحب ته ووې چې د دې کتاب په چاپ کولو کښې زما مدد وکړه، خليق صاحب وعده وکړه او دا د هغۀ د مرستې نتيجه ده چې (د پښتنو تاريخ) وړومبے جلد شائع شو.))([20])

په دې توګه د پښتنو د تاريخ ديباچې نه په تېره بيا د مؤلف د هغو الفاظو نه چې وړاندې شول، دا څرګندېږي چې قاضي صاحب د تاريخ جوړولو په ډېرو سختو او ستونزمنو شرائطو کښې د پښتنو تاريخ ليکلے او چاپ کړے دے ځکه زۀ دے ((تاريخ جوړونکے، تاريخ ليکونکے)) بولم.

دې سره دې علمي حقيقت ته هم متوجه يم چې د هر انسان په هر کار، په تېره بيا د هر ليکوال په هره ليکنه تبصره او انتقاد کېدلے شي، ښائي چې قاضي صاحب د خپل کار، په تېره بيا د ديباچې د ليکلو په مهال دې ټکي ته ملتفت ؤ نو ځکه احتمالي انتقادونه ئې مېدان ته رااېستلي او د هغۀ په ارتباط ئې خپل ځوابونه يا معذرتونه وړاندې کړې دي. ليکي:

((زۀ دا دعوي' نۀ کوم چې دا تاريخ بالکل مکمل دے، زۀ چونکې په خپله افغانستان ته تلے نۀ يم نو په دې کتاب کښې د کلو او علاقو نومونه، کۀ بعضې غلط وي نو دا دې زما قصداً غلطي نۀ شي ګڼلے، دا به زما مجبوري وي.

- دغسې شايد چې بعضې واقعات مې د حقيقت نه خلاف ليکلي وي نو د دې ذمه واري هم په هغه مورخينو ده د چا د تصنيفاتو نه چې ما اخذ کړے دے. بيا هم ما په خپل وس کوشش کړے دے چې کمزوري او ضعيف روايتونه د نظر نه وغورزولے شي او کوم روايتونه چې ماته قوي ښکارېدل هغه صحيح وګڼلے شي.

- زۀ د کتابونو نومونه دلته ليکل ضروري نۀ ګڼم، د کومو نه چې ما فائده اخستې ده، ولې چې هغه په کتاب کښې په خپل خپل ځائے ليکلي شوي دي، دا کتابونه چونکې اکثر انګرېزانو ليکلي دي، ممکنه ده چې هغوي پکښې د خپلې سياسي پاليسۍ لحاظ کړے وي، بعضې واقعات ئې غلط

ښودلي وي نو زۀ په دې خبره د خپلو تمامو پښتنو نه او خصوصاً د افغانستان د پښتنو ورونړو نه معافي غواړم چې هغوي دې دا زما پالیسي نۀ ګڼي او په دغه لیکلو دې ما معذور وګڼي...))([21])

قاضي صاحب د ټولو پښتنو بیا خصوصاً د افغانستان د پښتنو ورونړو څخه معافي غوښتې ده، تر تعمیم وروستو دغه تخصیص د قاضي صاحب په ذهن کښې د افغانستان د ورونړو د زیات اهمیت څرګندونه کوي او څرنګه چې د زړۀ نه زړۀ ته لار وي او بغض او محبت د دواړو خواو وي، د افغانستان د لوستونکو، دانشمندانو او روښانفکرانو په نظر کښې هم قاضي صاحب او هم ئې د پښتنو تاریخ خورا لوړ ارزښت لري.

د افغانستان مؤرخین او په سر کښې ښاغلي میرغلام محمد غبار په خپلو تاریخي څېړنو او لیکنو کښې د قاضي صاحب تالیف د یو معتبر ماخذ په توګه کارولے دے، د هم دې ضرورت له مخه د قاضي صاحب دا اثر په 1356 هـ ش کال د دې ځائے د څېړندویانو د استفادې په غرض بیا په کابل کښې چاپ شوے دے. سربېره پر دې ځینې افغاني دانشمندان دا هیله هم لري چې دغه کتاب دې په دري ژبه هم ترجمه شي.

د قاضي صاحب د ژوند، مبارزې او لیکوالۍ په دوران کښې د استعمار تر چتر لاندې پېښور، له کابل څخه ډېر لرې ؤ نو ځکه قاضي صاحب په خپل ژوند کښې چرې هم کابل ته نۀ دے راغلے او د دې سیمې د کلو او قریو د نومونو د سم تلفظ په برخه کښې په خپل کتاب شکمن دے، د هغۀ په ماخذونو کښې چرې هم د بر افغان د لیکوالو له اثارو څخه کار نۀ دے اخستل شوے، مګر کله چې د افغانستان ستر مؤرخ، استاد احمد علي کهزاد تالیف (تاریخ افغانستان) پېښور ته او بیا د قاضي صاحب مطالعې ته ورسېد نو د هغۀ د پښتنو تاریخ د لومړي ټوک، ټولي فورمې چاپ شوې وې او یوائې د کتاب ګنډل یا صحافت پاتې ؤ، په هم دغه حالت کښې قاضي صاحب د پښتنو د اصل نسل په باره کښې د استاد کهزاد نظر اخستے دے او د کتاب په پائے کښې ئې چاپ کړے دے، په دې موضوع کښې په پېښور کښې د هغۀ وخت د رائجې نظریې او موجودو ماخذو له مخه قاضي صاحب هم د کتاب په پېل کښې د پښتنو اصل نسل (سامي) ګڼلے دے، مګر د استاد کهزاد د څېړنو له مخه پښتانۀ آرین ګڼل شوي دي.

د پښتنو د اصل نسل په باره کښې باید ووایو چې د قاضي صاحب د ژوند، فعالیت او لیکوالۍ په مهال په پښتونخوا کښې دا نظریه ښخي عامه وه چې پښتانۀ بني اسرائیل دي خو د هغۀ د کتاب تر بشپړ چاپېدو د مخه له کابل څخه د ښاغلي کهزاد کتاب وررورسېد او د پښتنو د آریائي توب په باره کښې په هغه کتاب کښې قطعي تاریخي او ژبني عېني شواهد موجود وو نو ئې دا نظر هم د خپل کتاب په پائې کښې واخست.

ما (خدمتګار) ته دا خبرې په زړۀ پورې وې د دواړو نظریو په باره کښې به چې څۀ لیکنه راورسېدله، هغه به مې ولوسته، زۀ په عبراني ژبه نۀ پوهېدم او اوس هم نۀ پوهېږم، د سامي ژبو له جملې څخه یوائې عربۍ کښې مې ډېر کتابونه لوستي وو او د دې ژبې په ګرامر، فونولوژي، صرف او نحو

کښې مې مطالعه لرله او نور هم پکښې ننوتم. د آريائي ژبو له جملې څخه پښتو او فارسي زما خپلې ژبې دي. ټول عمر لوستنه، څېړنه، لولونه، ليکنه او مطالعه مې پکښې کړې ده. روسي ژبه مې هم زده شوه، په کابل کښې د فرانسوي ډارمستېټر پښتو څېړنې هم چاپ شوې، د ناروې د مارګنسټرن او د اروپا د نورو ختيځ پېژندونکو او ژبپوهانو تګ راتګ افغانستان ته وشو، دوي سره زمونږ ملاقاتونه هم کېدل او د دوي ليکنې هم رارسېدلې، زۀ هم څو ځله روسيې، چکوسلواکيې، پولېنډ او جرمني ته لاړم، هر وخت هر چرې او له هر چا سره د خپل مطلب په ټکي مې خبرې کړې دي نو زما په ذهن کښې دا خبره ښېخي پخه شوه چې پښتو بې له شکه آريائي ژبه ده نو پښتانۀ هم اريائيان دي.

او دا چې په پښتو کښې ځينې د سامي ژبو لغتونه يا بالعکس هم شته، په دې مې هم زيات غور کړے دے او آخر داسې يوې علمي نتيجې ته رسېدلے يم:

هره ژبه له يو قوم، نژاد او اتنيک پورې تړلې ده، پښتو د پښتنو، انګرېزي د انګرېزانو، جرمني د جرمنيانو، عربي د عربانو ژبه ده. نو پښتو، انګرېزي، جرمني او عربي د ژبو نومونه او پښتون، انګرېز، جرمن او عرب د قومونو او نژادونو نومونه دي.

د هرې ژبې تر شا يو قوم يا نژاد موجود دے، د زمکې پرمخ اوسني مېشت نژادونه، د رنګونو له مخه سپين، تور، زېړ او سور نژادونه نومول شوي دي، دلته مونږ يوازې سپين نژاد سره کار لرو چې اوس دوه ژبني او نژادي: آريائي او سامي څانګې لري.

آريائي ژبې د آرين نسل پورې ارتباط لري چې د لرغونو زمانو له يوې مونډيزې ستې څخه راوتلې دي او دغه مورينه ژبه د آريائي، آرياني، ايرياني، آري، آريک او آريو په نومونه ياده شوې ده. هم دارنګه د سامي ژبو اوسني او له منځه تللي لرغونې ژبې او ګروپونه هم له يوې سامي مونډيزې ستې څخه راوتلي دي.

نو چې ژبه نژاد پورې تړلې ده د طبيعي بهير او منطق له مخه بايد سپين نژاد د دواړو څانګو يا د آريائي او سامي ګروپونو مونډيزه آرينه او مورينه يوه ګډه ژبه ومنو چې د لرغوني تاريخ په تيارو کښې ورکه شوې او نوم او نشان ئې هم راپاتې نۀ دے.

خو کۀ ورته ځير شوو اوس هم مونږ په سامي ژبو کښې د اريائي ژبو او بالعکس عناصر موندلے شو، د هغو په ژوره مطالعه او مقائسه کېدے شي چې د سپين نژاد اريني، موريني واحدې ژبې پته ولګېږي چې مشترک، بنسټي عناصر ئې په ټولو يا ډېرو ژبو کښې ځان ښيي. دغه عناصر بيا تصادفي هم نۀ، بلکې له اصلي مونډيزې ژبې څخه راوتلي او مختلفو څانګو د لارې رارسېدلي عناصر ئې ګڼلے شو.(22)

په دې باره کښې ماسره ډېر مثالونه شته چې دلته په هم دې اشاره بسنه کوم او بيرته راګرځم د قاضي صاحب د پښتنو تاريخ ته.

د دې تــاريخ پــه علمــي، تخنيكــي، ببيليــو ګرافيکي او ادبي ارزښتونو او نورو اړخونو ډېر څۀ ليکل کېدے شي. زما په نظر څومره او څنګه چې ښائي د دې کتاب ژوره او پراخه مطالعه او کره کتنه لا نۀ ده شوې. دا هر څۀ د يو ليکوال له خوا د يوې مقالې په معيار کېدے نۀ شي، بلکې يو پراخ سيمينار ورته پکار دے نو ځکه زۀ خپلې خبرې د قاضي صاحب په يوه خبره نغاړم چې وائي:

«د پښتنو تـاريخ ډېر اوږد دے، مـا صرف د پښتنو تاريخ دوېم دور يعنې د کال 1622 نه تر 1879 پورې رااخستے دے، ورومبے هغه دے چې د محمود غزنوي نه شروع شوے دے او د شېرشاه سوري او بهلول لودي پورې رارسېدلے دے، د هغې نه پس دوېم دور شروع شوے دے چې د هغه تاريخ ما وليکلو.

هو! د قاضي عطاءالله خان، «د پښتنو تاريخ» کښې زمونږ د تاريخي هېواد د لر او بر افغان د هغې دورې د تاريخ يو څو کلونه هم شامل دي چې مونږ نن د هغې د ځلولو لپاره دلته راټول شوي يو، جشن او علمي فرهنګي غونډه مو جوړه کړې ده. بختور دې وي. والسلام

## يادونې:

1- د قاضي عطاءالله خان د لنډې بايوګرافۍ لپاره کتلے شئ:

الف: عبدالروف بېنوا

- ليډران امروزی پشتونستان- کال 1330 هـ ش- صفحات 23-24.
- پښتونستان- کابل- 1330 هـ ش. ۱- 470 مخونه.
- اوسني ليکوال دريم ټوک- کابل- 1346 هـ ش- 8-1042 مخونه.

ب: سرمحقق زلمے هېواد مل- فرهنګ زبان و ادبيات پشتو- کابل- 1356 هـ ش.

(په دې ماخذ کښې ليکلي دي چې قاضي صاحب په تاکال کښې زېږېدلے دے).

2- خان عبدالغفار خان- زما ژوند او جدوجهد- کابل-1362 هـ ش- 1983م 1-140 مخونه.

3- د دې موضوع د زيات تفصيل دپاره کتلے شئ:

تېر ماخذ: 170-180 مخونه.

4- تېر ماخذ: 3-182 مخونه.

5- تېر ماخذ: 182 مخ.

6- تېر ماخذ.

7- تېر ماخذ: 3-182 مخ.

8- تېر ماخذ: 182 مخ.

9- په دې باره کښې د تفصيل دپاره کتلے شئ:

تېر ماخذ:186 مخ او ورپسې مخونه.

10- اوسني ليکوال- 1043 مخ.

11- زما ژوند او جدوجهد- 8-547 مخونه.

12- تېر ماخذ- 557 مخ او د دغو نيونو او زندانونو د مفصلو حالاتو دپاره:

تېر ماخذ:549، 564 مخونه.

13- د باچا خان ليکونه لومړے ټوک- د څېړندوئے عبدالله بختاني خدمتګار نقل، مقدمه او تعليقات- کابل-1363 هـ ش 1984م- 12 مخ. (له سابرمتي سنټر جېل احمد آباد څخه، د 14 4 1935 ليک).

14- تېر ماخذ-35 مخ. (له ذکر شوي جېل څخه د 30 5 1935 ليک).

15- تېر ماخذ: 87 مخ (له سټرک جېل بريلي څخه د 11 10 1935 ليک).

16- تېر ماخذ 119 مخ (له الموړه جېل څخه د 1936 د جولائي ليک).

17-د کابينې د انتخاب، د هغې د کار د دوام، د کار د نتائجو او ستونزو د ټولو مسائلو په باره کښې کتلے شئ:

زما ژوند او جدوجهد-612-642 مخونه.

18- د باچا خان ليکونه دوهم ټوک- د سرمحقق خدمتګار ټولونه، سريزه او پايليکونه- پېښور- 1384 هـ ش-2005م- 46-49 مخونه. په حواله د:

- رهبر، مجله –پېښور- د 1961م د مۍ 16مه- جلد لمبر5- 26 شماره- لمبر 14- دوهم مخ.

19 اوسني ليکوال- 1047 مخ.

20- قاضي عطاءالله خان- د پښتنو تاريخ- پېښور- د 2004م د مارچ چاپ- دېباچه 4،3 مخونه.

21- تېر ماخذ- 4،5 مخونه.

22- په دې باره کښې ما (خدمتګار) په ((پښتو عالمي ادبي کنونشن- پېښور- نشترهال د 2005م کال د مارچ 28 مه) کښې مفصله مدلل وينا کړې ده. د وينا د متن لپاره کتلے شئ:

الف: کابل، مجله- د افغانستان د علومو اکاډمي- د 2005 اګست ستمبر- 605 مه ګڼه- 12، 18 مخونه.

ب: د اسير منګل او سليم بنګش ترتيب- پښتو- پرون، نن او سبا (د کنونشن مقالې) پښتو ادبي چمن ټل- جنوري 2006م- 38-40 مخونه.